ليکونکی : دانيل لاريسن «Daniel Larison

منبع اود خپريدو نيټه :انفارميشن کليرنګ هوز «2022-01-02».

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

-----------------------------------------------------------

# دافغانستان خلک دمرګ په لوری خفه«زندی» کول

# Choking the Afghan People to Death

ګريم سمت «Graem Smith» دمتحده اياﻻتواودهغه له متحدانو يا انډيوالانوڅخه غواړی چی دافغان دخلکوله وږی ورکولو څخه لاس واخلی



متحده اياﻻت اودهغه متحدان پر ا فغا نستا ن باندی بايد چي د لګول شوی بند يزينو اومحدوديتونو څخه لاس واخلی اودهغه هيواد بيا له سره د اقتصا د دپرمختګ لپاره لاس پکار شي اودا ځکه چي په دی کړنـي سره په سيمه کي امنيت او ټيکاو رامينځته کيږی، د مخدره موادو قاچاق له مينځه ځی اوديوبل احتمالی کتلوی مهاجرت څخه مخنيوی کوی اود ميلينونو افغانانو له تنګد ستی اوله فقر څخه په راوتلو ددی امکان رابرابريږی چی د متحده اياﻻتو وقار دهغی له ګډوډو راوتلو څخه له سره اعاده شی اودهغه اِثر په جانبی بنبی سره پر طالبانو باندی هم وغورځيږي چي دا ډول مبادلات دواقعی سياست نښی او نښا نـي دي .

له افغانستان څخه دمتحده اياﻻتو دقوتونو په وتلوسره بايد چي په هغه ځای کی جنګ جګړه ختمه شوی وايی حا ل داچي دغه جګړه په اقتصادی جګړه بدلون وموند کوم چی اوس په افغانستان کی دغه اقتصادی جنګ هغه ناورين دی چی له هغه ګرم جګړی څخه لا زيات ورانوونکی جنګ جګړه دی کوم چي آمريکا دغه ډول جګړه پر افغانانو باندي

تپلی او نړیوال یی هک او پک کړي دي لکه هغسی چی ما دوه میاشتي مخکی دغه ورته ډول استدلال ترسره کړي وه .

زه به دا هم زیاته کړم چې په افغانستان کي دغه سخت بشری ناورین د دی یوه بیلګه ده چې بند یزیونه یوداسی اقتصاد ته زیان رسوی چي دولتی زیرمو اونړیوال بشری مرستی هم نشی کولای چی ددی بوړنونکی لوړه مخه ونیسی او هم نور اقتصادی برخی کوم چی ددی بندیزیونو له امله متا ثر شوی ځنی سرچینی لری چی د پوره هڅو په ترسره کولو سره کیدای شی چی بیرته اعاده شي.

لکه چي ټولو ته معلومه دي افغانستان ترزیاته اندازي پوری دامریکي دمتحده ایالاتواو دنړیوال مستقیم مرستوپوری متکی هیواد دي اوکله چي دغه مرستي ودرید همغه وه چي افغانستان د مجوز شوی اقتصادی تحریمونو له اثره کندی ته سقوط وکړ که څه هم پر ایران او ونزویلا باندی حد اکثرتحریمونه ظا لما نه دی اما دغه ډول تحریمونه پر هغه هیوادونه کوم چي ډیر زیا ن منونکی دی خورا ډیر نا وړه کار دي .

اما دبلی خوا څخه که چیری پر طالبانو باندی وضع کړ شوی اقتصادی او مرستندوی بندیزونه نرم کړل شی نو دطالبانو دحکومت درسمی پیژندنی اودهغود مشروعیت دمسلی ویره شتون لري اما د «**بایدن** » اداره دا موضوع باید په پام کي ولري چي دلته دافغان دخلکو دلوږی مسله پروت دي ، کوم چي زمونږدولت دهغه بندیزیونودرامینځته کیدو ستر مسول دي دا به نه یوائی دبی ګناه خلکو په وړاندي به یو جرم وی بلکه دا پخپله یو بوږنونکی چلند او کرغیړن کړنه دي کوم چی زمونږ د مخالفینو د تبلیغ لپاره زمینه برابروی نو هغه ناوړی فعا لیتونه کوم چی متحده ایالات د افغا نستا ن له راوتو څخه ترسره کړی نو لازم بریښی چی دخپل وقار د اعاده کولو لپا ره ټول هغه لګول شوی تحریمونه د افغان خلکو په وړاند له مینځه ویسی اودغه بشری ناورین ته د پای ټکي کیږدی .

تاریخ ښودلی چي دامریکی جګړه ماران دغچ اخیستو په هدف پر هغه هیوادونو باندی یوا ړخیز ډول بندیزیونه لګولی کوم چی هغه هیوادونه دامریکی د آوامرو څخه سرغړونه کړی دی او آمریکي خپل دغه تحریمونوته تر هغه وخته پوری دوام ورکړی تر څو چي هغه هیوادونه دمجبوریت له امله امریکی ته تا بع شوی دي دا چی لګول شوی تحریمونه پر بی ګناه خلکو څه تاثیر اچوی امریکایی سیاستوالو ته چندان اهمیت نه لری اودا ځکه چی دغه سیا ست پوه آمریکایان داسی اصرار کوی چی هغوی «معا فیتونه» راتاکي اوکله چي بیا هغه معا فیتونه کارسا ز ونه اوسی نو بل بد یل ته زړه نه ښه کوي ، حتی تر هغه پوری چي که وضع کړشوی معافیتونه دبرنامی په ښه مخته لاړشی نو یوائی اقتصاد اوبشری مرستی نشی کولی چی ستونزی له مینځه ویسی .

دموضوع پوهاوی سخته نه دی او هغه د اچی تجارت باندنی تجارت غیرممکن کړی اوس کیدای شي چی لس ګونه میلیون خلک کوم چی مرستی ته ضرورت لری دغه مرسته دهغو ځنی احتیاجات یو څه رفع کړي .

بندیزونو ساتل او د دولت د شتمنیو کنګل ساتل پداسې حال کې چې تاسو د مرستې پیسو یوه اندازه جریان ته اجازه ورکوئ ترڅو ټول ملت محاصره کړي. د دې ثبوت په توګه د مرستې پیسو چلولو ته اشاره کول چې تاسو د خلکو سره مرستې ته ژمن یاست پدې حا لت کې یوازې سپکاوی دی.

لکه څنګه چې **سمیت** وایي، "د تباهۍ اصلي لامل په اقتصاد باندې د لویدیځ فشار دی." دا د متحده ایالاتو او د هغه د متحدینو په واک کې ده چې دا بند خوشې کړي، مګر دوی باید د افغانانو د ژوند د غځولو مخه ونیسي .لکه څنګه چې **لی فانګ** په یوه وروستي راپور کې څرګنده کړه، په افغانستان کې د بند یزونو لپا ره لږ بشري معا فیت دافغانانو اړتیاوو ته د رسیدو لپاره خورا ناکافي دي :مګر دا بشردوستانه معافیتونه چې د بهرنیو شتمنیو کنټرول د خزانې دفتر لخوا څارل کیږي، د کارپوهانو په وینا چې د انټرسیپټ سره یې خبرې کړې، هیڅ ځای ته نږدې نه دي. د OFAC جوازونه، په شمول د نویو جوازونو په شمول چې د دسمبر په 22 خپور شو، د بند یزونو نړیوال یخ اغیز مخه نه نیسي او د یو داسې ناورین په مخنیوي کې اغیزمن ندي چې د متحده ایالاتو تر ملاتړ لاندې نږدې 20 کلنې جګړې او اشغال څخه ډیر افغانان ووژني .

لکه څنګه چې موږ په ډیری نورو قضیو کې لیدلي، د مالي موسسو او سوداګرو لخوا ډیر اطاعت یوه لویه ستونزه ده. دا بنستونه به د متحده ایالاتو د بندیزونو په غلط لوري کې د پاتې کیدو چانس نه اخلي، او په دې توګه دوی په افغانستان کې سوداګري بندوي **شماکر** زیاته کړه: "د OFAC جوازونه هیڅکله کار نه کوي، هیڅکله به نه وي." "هغه شیبه چې با نکونه کوم بند یز یا کوم ډول محدودیت ویني، دوی یوازې د هر ډول معاملو له ترسره کولو څخه لیرې کیږي. دا هغه څه دي چې اوس په افغا نستا ن کې کیږي. با نکونه نه غواړي چې زموږ سوداګرۍ واخلي، او د OFAC جوازونو هیڅ مقدار د دوی اړتیاوې نه پوره کوي .

بندیزونه یو بې توپیره وسله ده، او دوی ډیری بې ګناه ملکي وګړي وژني. که داسې ونه شي، ډیر ژر به په افغانستان کې د لوږې او ډله ییزې مرګ ژوبلې مسوول وي. دا لا هم د مخنیوي وړ پایله ده، مګر ډیر وخت نه دی پاتې چې د انسان لخوا رامینځته شوي ترټولو بدې قحطۍ مخه ونیسي چې دمخه پیښیږي .

## دلیکونکی په اړه :

دینیل لاریسن د بهرنۍ پا لیسۍ او نړیوالو چارو په اړه ورځنۍ بلاګ لري

------------------------------ **په درناوی** «09-01-2022»